# د الکولی مشروباتو هیڅ مقدار هم محفوظ نه ګڼل کیږی

## No Amount of Alcohol is Safe

دا د نړیوال د کانسر راپور World Cancer Report (WCR) کمیټی د ۲۰۱۴ م کال د څیړنو نتیجه وه چه د نړیوال

صحی موسسی(WHO) د یوی څانګی International Agency for Research on Cancer (IARC) له خوا خپره شوه.

دغه موسسه په ۱۹۸۸ م کال کی الکول یوه کانسر تولید کونکی ماده اعلان کړه. د الکولی مشروباتو اثرات د ځینی کانسرونو په مینځته راتلو کی بیژندل شویدی لکه :

cancers of the mouth, pharynx, larynx, esophagus, colon-rectum, liver, and female breast

داسی ګمان کیږی چه ځینی نور خبیثه کانسرونه هم د الکولی مشروباتو سره سببی اړیکی لری مګر نورو څیړنو ته ضرورت شته چه نهایی اثرات یی ثابت شی. به دی جمله کی د لاندی ناروغیو نومونه ذکر کولای شو:

Leukemia, multiple myeloma, and cancers of the cervix, vulva, vagina, and skin

د الکولی مشروباتو د استعمال زیاتیدو سره د نوموړی کانسرونو د مینځته راتلو چانس هم زیاتیږی. مګر د الکولو هیڅ اندازه هم محفوظ نه ګڼل کیږی.

Source: Medscape Oncology, website. April 30, 2014